# پښتون شاعر

## ژوندانه ته په کمه سترګه ګوري؟
## په عربي او انګلسي ادب کي دا کاته څنګه دي؟ ⟩

پر هر چا خپل ځان او خپل ژوندون ګران وي، تر څو چي د سړي بدن روغ وي او اړ نه وي نو په ژوندانه خوښ هم وي، او تل يې زړه پوري ښتي نښتي وي.

انسان بېله مادي او بدني اړتياوو روحي او معنوي احتياجات هم لري، که دغه شيان ده ته ميسر او پوره وي، نو خوښ وي او که نه وي ميسر نو په هغه اندازه خواتوری او په وير لړلی وی، عموماً د انسان فطري حال هم دغه دئ چي د ژوندانه سره مينه لري، مګر کله کله داسي هم پېښېږي چي د جسمي او روحي عوارضو له لامله له ژوندونه خواتوری سي، او په بد نظر ورته وګوري.

هغو سړو ته چي ژوندانه ته په بده سترګه ګوري او هم تريخ پر تېرېږي، اصطلاحاً متشايم يا بد بين وايي، چي په اروپايي اصطلاح دغه د تشاوم مسلک پيسيمزم بولي او دا راز افکار په ادب او فلسفه کي لويه برخه لري او په شرقي ادب او فلسفه کي هم ډېر ډېر ليدل کېږي.

پوهانو چي تجربې کړي دي د تشاوم د مسلک خلق عموماً د معتدل مزاج او پر ځان د ويسا کولو خاوندان نه وي، ضرور محيط يا وراثت د دوی بدن او پلې ور وراني کړي وي نو لکه نور ژوندي هغسي طبيعي حيات نه سي کولای، تل له نواقصو او مخالفو اوضاعو څخه شاکي وي، او ژوندون د ناکامۍ او بدۍ او شر په سترګه ويني.

د انسان ژوندون ډېري نيمګړتياوي او نواقص لري خو کلك او غښتلي خلك يې دغه نيمګړتياوي د موټه په زور بشپړي کوي، او ځان ته پر ټولو مشکلاتو او سختيو باندي بری ورکوي، مګر متشايم او بدبين سړی يې په ليدلو غمجن کېږي او دايمي وير يې په برخه وي، هر شي ته په بده سترګه ګوري او ځان د وير په سيند کي لاهو ورته ښکاري.

ادباء او د فنونو خاوندان عادتاً ډېر نري احساسات لري، او د دوی د تفکر او ژوندانه لار له هغو خلکو څخه بالکل بېله ده، چي د پټوخو حسياتو خاوندان وي، دوی په کوچني شي ډېر متاثره کېږي او ډېر نواقص دي چي دوی يې ويني، مګر نور څوك يې نه سي ليدلای.

ډېر خلك داسي دي چي په کوچنوټو پيښو نه متاثر کېږي، جزوي نقايص نه سي ليدلای، حيات په خوښي او هوسايي تېروي، مګر که دغه نقايص او پېښي يو بل چا ته په مخ کي ورسي ډېره اغېزه پر کوي، او نهايت يې متاثر کوي.

خوشبين سړی تل د حيات روښه ګوټونه ويني، مګر متشايم د تيارو خوا ته ځغلي، او بد او کرغېړن شيان د ده له سترګو څخه نه چېېږي. په حقيقت کي دين او علم دواړه د تشاوم لار او چاري نه خوښوي، ځکه چي دغه دواړه د انسان د حيات د سمولو له پاره دي، او دين لا د مرګ غم هم خوري مګر د تشاوم فکر حيات او مدنيت ته سخت مضر دئ.

عموماً په ملتو کي د بدبينۍ فکر تر کم سياسي يا اقتصادي يا خلقي ادبار وروسته پيدا کېږي، او کوم وخت چي د ياس او نا اميدۍ څپې راسي، نو هلته ځيني خلك چي مزاجاً هم مستعد وي د بدبينۍ پر خوا درومي.

مثلاً د يونان په ادب کي وينو هغه وخت چي دوی پر اکثره دنيا برياليي وه او د برم او لوړتيا خاوندان وه نو يې د بدلېدلو

فکر هم په ادب کي لږ نه ښکاري، اما کوم وخت چي دوی له برمه ولوېده، او په سیاسي ادبار اخته سول، نو د شك او رفض او اعتزال او تشاوم افکار په دوی کي خپاره سول.

علاوه پر دغو اجتماعي عواملو (لکه چي ومي ویل) فردي او نفسي سببونه هم یو ادیب او شاعر د تشاوم پر خوا بېولای سي، مثلاً په انګلیسي ادب کي خورا بدبین او متشایم سړی "جوناتان سویفټ" دئ، چي د ده عمر ټول په ناروغي تېر سو، او د غوږ درد به تل ورسره ملګری و، دغه ژوندانه د ده سیاسي او ادبي آمال تر خاورو لاندي کړه ولاړ دنیا یې پرېښوه، د آیرلنډ په کم ګوټ کي غلی سو، د سویفټ یو کتاب چي "د جلیفر سفرونه" یې نوم دئ د ادب له پلوه ډېر خوږ او د سلاست او فکاهت او براعت ښه نمونه ده، مګر په " انسانیت" یې سختي ملنډې وهلي دي.

په دې نوې زمانه کي د متشائمو خلکو مشر "ټوماس هارډي" دئ، چي پر ده باندي تل د مرګ بلاوي اوري. نو دی پخپلو ډېرو قصایدو کي د انسان ضعف او نامرادي تصویر کوي. منحوس او مدهش مناظر، او بېرورنکي ظروف او مواقع ښیي، د کیسو او روایت کسان یې هم تل مړي وي او خپل اشعار د مړو له خولې وایي، د میني فجایع تصویر کوي او سړی له یوه ویره بل ویر ته بیایي، له یوې تیارې یې باسي بله تیاره تر هغه ډېره بېرورنکې ورښیي.

د ده بل معاصر او شاګرد "هاوسمان" دئ، چي د مړو او ژوندو خبرو سره جوړوي، او د سخت تشاؤم په خوږ اخته دئ، کوپر او بیرون هم له دغي ډلي څخه دي چي دواړه د وراثت او سوداوي مزاج له لامله بدبین دي، مګر لومړی ضعیف او پر ځان د ویسا څښتن نه و، نو ځکه په عزلت قانع سو او په دغه حال کې ډېر د تشاؤم اشعار وویل، مګر بیرون پر خپلو کمالاتو او نسب ویسا کوله او په ډېر جرئت او دلاوري یې د ټولني سره ټکر خوړ او هر ځای یې د انسان نقص او د ژوندانه تیارې تصویر کولې.

په عربي ادب کي "معري" د تشاؤم مؤسس دئ دا سړی هم د ناروغۍ او بدني علت له لامله بدبین سوی و، دی د ړوندوالي په سبب د ژوندانه له ډېرو خوندو څخه محروم و نو د ده فلسفه د متشائمینو د افکارو یوه ښه مجموعه ده، انسان سپك ګڼي، له ښځي څخه تره کوي، شکاك سړی دئ، هر څه ته له بدي لاري ګوري، خپل ژوند یې هم ډېر پر ځان تنګ کړی و، فقط نباتات یې خوړل، ښځي ته نه نژدې کېده، خپل افکار یې په ښکلي او روان او خواږه شعر په داسي ډول بیان کړه چي د ده له احساساتو څخه ښه ترجماني کوي، دی وایي چي ما دغه د سختۍ ژوندون ځکه غوره کړ چي بېله دغو سختیو نور هر څه تېر سوي دي :

ولم ارغب عن اللذت الا
لان خیارهما عنی خنسه

د معري ژوندون ټول په دې جګړه کي تېر سو، چي نفس یې د عیش او راحت لوازم غوښتل، او ده به له هغو څخه ځان ژغوره، تل به د بلي دنیا د ښادیو په امید کي و او د دغه ژوندانه خوښۍ او هوسایۍ یې نه خوښولې، ده "رساله الغفران" په دغه خیال ولیکه، او په عربي کي داسي یو اثر زیات کړ، چي هیڅ ساری نه لري.

معري په عربي کي د تشاؤم او اعتزال او له ژوندانه څخه د تښتي علمبردار دئ، د ده شاګردان او پیروان هم په هغه عصر کي چي له هري خوا د عیش او عشرت دنیا وه، ژوندانه ته په سپك نظر ګوري، بشار او ابو نواس د ده پر لار ځي، او ځانونه له راحت او عیش و عشرت څخه ګوښه کوي، او د خپل عصر له مادي افکارو سره سخت نښلي، ابونواس وایي :

قلت والکاس علی کفی تهوی لا لتثامي
انا لا اعرف ذاك الیوم فی ذاك الرجام

یعني : چي پیاله مي په لاس کي وي او زما د مچي آرزو لري، داسي ورځ په داسي اړودوړ کي نه سي پېژندلای.

ګویا دی دا حیات د اړودوړ ډکر بولي او په ژوندون د دې فرصت نه ګڼي، چي سړی جام په لاس کي واخلي او په عشرت اخته سي.

د شعراوو په حیات کي دغه د بدبینۍ مظاهر هم ډول ډول وي، معري او بشار دواړه ړانده وه او د لیدلو له خوندو څخه دواړه محروم وه، نو د دوی ژوند له ګوښه ګیرۍ او اعتزاله ډک و، مګر د معري اعصاب او بدن ضعیف و نو یې له ژوندانه څخه لاس واخیست، په کرامت او سلامتي کي کښېنوست، اما بشار په بدن څورب او قوي و، امیال او خواهشات یې غښتلي وه، په شهواتو کي ولوېد، او د ژبي په تېره چاړه یې له ځانه دفاع کوله، او لکه زمری چي سور راسي تېرې منګولې یې د خپلو امیالو په ساتلو کي راکښلي وې.

دا وه د بدبینۍ مظاهر چي د شعراوو په حیات کي په ډول ډول ښکاره سوه او هر چا د خپل ځان او وضعیت له استعداده سره سم پخپل شعر او کلام کي څرګند کړه، او لکه چي دمخه وویل سوه. محیط، اجتماعي اوضاعو او د شاعرانو صحي او بدني وضعیت او مزاج هم ټولو په دغه فکر کي اغېزه درلوده.

ممکنه ده چي یو شاعر ډېر حساس وي، رقیق القلب سړی وي، مزاج یې مستعد وي چي له دنیا څخه خواتوری سي، مګر د ژوندانه محیط یې سم وي، قوا یې پر طبیعي حال وي، داسي سړی طبعاً د بدبینۍ لوري ته نه ځي، او نه ځان له اجتماع څخه د اعتزال خوا ته باسي. بالعکس ډېر د قوي روح خاوندان به وي چي د عصر او حیات ناوړي څپې یې لاهو کړي، نو دوی طبعاً شکوه کوي او ځان د ناکامۍ په تیارو کي بدبخت ویني.

د پښتو په ادب کي د دغو محیطي عواملو اغېزې خورا ډېري دي، که څه هم پښتانه شعراء په یوه آزاد محیط کي لوی سوي او هم د فطرت له ډېرو ښېګڼو او نعمتو څخه برخي لري مګر بیا هم په تاریخي دورو کي ډېر هسي ناوړه حوادث په دې هیواد کي پېښ سوي دي، چي شعراء یې د بدبینۍ لوري ته په زور کش کړي دي.

په شفاهي ادب یعني لنډیو، نارو او بدلو کي سړی د تشاؤم رنګ هم نه سي لیدای، البته شاعر د میني په ویر اخته وي، ډېر به غمجن وي، دنیا ته به په بد نظر نه ګوري، بشر "مفطور بالبشر" نه ګڼي.

پښتون شاعر سره له دې چي د میني په ژور سیند کي د غم په څپو لاهو دئ او د عشق په نړۍ کي ډېر غمونه او کړاوونه ویني بیا هم بدبین نه دئ باغ له ځي د بلبل ژړا اروي، دی هم د میني په ویر ویرجن کېږي اما د ګلانو له سیله سترګي نه پټوي، که څه هم ویر ژړلی دئ، خو د بڼ زېبایي ده ته کرغېړنه نه ایسي او بدبین نه وي.

باغ له درځم ګلان به ګورم
بلبل به ژاړي زه به ستا په غم کي یمه
د ګړنګو ژړیه ګله !
چي تا ته ګورم خپل غمونه هېرومه

"رحمان بابا" چي ډېر متصوف او له دنیا څخه لیري کېدونکی شاعر دئ هم په ډېر انصاف او دقت دا مسئله فیصله کوي، هلته چي وایي :

ښه ده ښه ده دا دنيا
چي توښه ده د عقبا
مذمت د دنيا مه کړه
واوره پند کړه دا وينا
په دنيا کي بدي نشته
که بدي نه وي له تا
دنيا بحر دئ بهېږي
آئينه غوندي صفا
خپل خپل مخ پکښي ليده شي
که څوک زشت وي که زېبا

هم خطر پکښي د سر شته
هم ګوهر دئ بې بها
وفادار لره وفا شوه
جفاکار لره جفا
له يوه مخه يې درد وي
له بل مخه يې دوا
کار همه واړه موقوف دئ
د سړي په مدعا
هر چي کا هغه به مومي
دنيا ځای دئ د جزا

رحمان بابا عقيده لري، چي پخپله دنيا بالذات بده نه ده، د سړي له بديو بدېږي او په ښو يې ښه کېږي نو بايد په بد نظر ورته ونه ګورو دا د انسان پخپل لاس کي ده، چي دنيا ځانته ښه کړي يا بده، مثلاً

دنیا بده د هغو ده
چې یې کسب وي ریا
یا یې ټوله کا په ظلم
یا د خمرو په سودا
یا ناحق خونونه کاندي
یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض
د پادشاه د امراء
حق باطل کا، باطل حق کا
په سبب د روی ریا
د یوې ګیډې له پاره
هزار خوني کا بېدیا

همېشه یې له ستمه
واړه خلك وي په غوغا
ګوش و هوش یې هر ګز نه وي
د مظلومو په ژړا
د فرعون په څېر ناست وي
بې پروا او کبریا
و "رحمان" ته پېښه مه کړې
خدایه ! هسي رنګ بلا

رحمان بابا دلته تر شخصي حیات وروزي او له فردي چاپېره بېلېږي، په یوه اجتماعي فضا کي د دنیا ښه او بد پرتله کوي، او هغه څه چي په ټولني ژوندانه کي بشر ته شر ګڼل کېږي، "بلا" یې بولي او خدای ته پناه وړي له داسي شره !

په حقیقت کي پښتانه د مقاومت روح پخپل فطرت کي لري، ناوړي او بدي پېښي او کرغېړن حوادث، دوی د ژوندانه له میدانه نه سي ایستلای، نو ځکه دوی د جهد للبقا په ډګر له ناوړو پېښو سره په مړانه درېږي، که ویر او غم پر راسي هغه هم د دوی غښتلی روح نه سي مغلوب کولای.

کله کله د ژوندانه په جهد او زیار کي پر پښتنو ډېر ناوړه واقعات برابر سوي دي، د تاریخ ډېري مدهشي او وژونکي څپې پر دې قوم راغلي دي، د مغولو او چنګېزیانو تاړاکونه ټول پر دې مځکه وه، خوشحال خان غوندي مېړه او نابغه او اتل یې هم له پښو واچاوه، مګر فقط د پښتونوالي غښتلی او پیاوړی روح و، چي زموږ شعراء یې تشاؤم ته نه پرېښووه او له بدبینۍ څخه یې راوګرځول.

وګورئ : خوشحال خان د یاس او قنوطیت په تالا کي هسي وایي :

خــــواره حــیرانه ! بني آدمـــه !
چي دي خمیر دئ خاوري له غمه
یو دم که وخـــاندې په دا دنیا کي
بیا دي ژړا وي په څـــو څـــو دمــه

دا هغه فلسفه او نظر دئ، چي د متشائمینو پلار "شوپنهاور" یې لري، دی وایي : "اویا کاله کېږي چي زه فکر وهم اما بېله دې مي بله نتیجه نه ده اخیستې چي انسان د دې له پاره دئ چي په ویر او ناورین کي به مري".

دی وایي : "چي د ژوندانه خواهښت یو غم دئ او ترڅو چي دغه خواهښت ورك نه سي، غم هم نه ورکېږي، نو په حقیقت کي غم ثابت او اصل دئ".

داسي افکار چي ژوندون تش یو ویر او ناورین دئ او څو حیات نفي نه سي غم هم نه ورکېږي، په شرقي فکر او شعر کي هم ډېر دئ، مثلاً ابوالفرج روني وایي :

عـــنقای مغربست درین دشت خـــرمی
خاص از برای محنت و رنج است آدمی

اما خوشحال خان دغه فکر او نظر تر پایه نه پسي څېړي ځکه چي د یاس او قنوط پر وخت دا فکر موجود وي مګر کم وخت چي د پښتونوالي نوم یاد سي، او د پښتانه غرایز راویښ سي، هلته د مقاومت او مړاني روح هسي پیاوړی کېږي، چي داسي افکار او نظریات ځان نه سي ورته ټینګولای، نو وایي :

د جهان غمونه واړه پکښې ځای سول
شکر دا چي زړه یې لوی راکړ و ما هم

د پښتونوالي په دنیا کي د پښتون شاعر زړه هسي یو مواج او بې پایه سیند ته ورته دئ، چي د غم او ناورین څپې یې نه سي سره ښورولای، او هر څه چي ور اچوي پکښې ورکېږي، لکه چي د پښتو پلار خوشحال خان وایي :

د عـــالم ډېري خبري، لـــور په لـــور لکه لښـــکري
زړه مي نه خوځي له ځایه، غر خو هسي وي کنه؟

نو زموږ د خبرو لنډېز دا دئ : چي په پښتو شعر کي د تشاؤم روح ډېر نسته، او عنصري ماده یې نه ده البته د هند او ایران ګاونډیتوب او د تاریخ خونړیو پېښو څه نه څه په پښتو ادب کي بدبیني پیدا کړېده، مګر ډېره لږ ده.

زه چي کله کله د پښتنو شاعرانو ویښوونکي اشعار لولم، په ژوندانه هسي قانع کېږم چي هلته د بدبینۍ کمه اغېزه هم نه وي.

البته په پښتو شعر کي د پښتونوالي علوهمت، قناعت، او مړانه سته، پښتون مستغني وي او ډېر کښته نه ځي او د ذلت منلو ته تیار نه وي.

د خوشحال خان دا یو بیت په دې نړۍ کي ما ته دوني قیمت لري، چي قیاس یې نه سوای کولای. له یوې خوا جهان ته خپل ښه نظر څرګندوي، له تشاؤمه تښتي له بلي خوا لوړ همت او مړانه ښیي او په خپل مقابل طرف ملنډې هم وهي.

چي سرې شوملې ترې څښم په وخت د اوړي
پاچهي د اورنګــــــــزيب زمــــــــا غــــــړکه !

يا هلته چي وايي :

چي خوشحال باندي ناستي کا
دا پــــوزي نه دئ اورنګ دئ

کابل مجله، ۱۳۲۳ ش، ۹ ګڼه، ۱–۵ مخونه.